لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران
۲۰۱۹/۰۸/۲۹

د غازي اعليحضرت پاچا امان الله د واکمنۍ سقوط عوامل

له نن څخه پوره سل کاله مخکې ځوان رونالدي او پرمختګپال شهزاده امان الله خان د کابل ښار د عیدګاه په جومات کې سفر بري جامي اغوستي وې، خپلواک پاچا د افغانستان ملي او سیاسي بشپړه خپلواکۍ اعلان کړه. دا مهال تازه لومړۍ نړیواله جګړه پای ته رسیدلې وه او ګڼ شمېر اسیایي هیوادونه د انګریزي نړیوال ښکېلاک او د شوروي اتحاد د کمونستي استعمار تر ولکې لاندې وو.

د افغان ملت د خپلواکۍ دې نابېره اعلان ټولې نړۍ ته شوک کړو. دا شوک په ځانګړي توګه د برتانیې نړیوالي امپراتورۍ په پلازمېنه لندن کې ډېر ښه احساس شو. همدارنګه د افغان ملت د ملي خپلواکۍ دا نعره په ټوله نړۍ کې د انګریزانو په مستعمرو کې د ازادي غوښتونکو غورځنګونو لپاره د خلاصون یوه ستره پیلامه وګرځیده.

شاه امان الله خان د افغانستان تر بشپړې سیاسي خپلواکۍ ترلاسه کولو ورسته د ټولنې مدني کولو، عصري کولو او پرمختګ په موخه پراخو بنسټیزو اړینو پرمختیایي، ریفورمونو، سمونونو او بدلونونو راوستلو باندې کار پیل کړو. څو افغان خپلواکه شاهي دولتي نظام په نړیوالو منل شویو نورمونو او معیارونو کې خپل مشروعیت او قانونیت ومومي او د شاهي دولت ټول اورګانونه قانون ته مسوول واوسي.

د ریفورمیست، نوښتګر ځوان پاچا امان الله خان شاهي دولت د ریفورمونو تګلارې موخه دا وه، څو افغانستان د عصري کولو له لارې د نړۍ له پرمختللي هیوادونو سره سیال کړي او د پرمختګ په لور ګامونه اوچت کړي. افغانستان د یو پیاوړي خپلواک دولت په څېر پر نړیوال کچ په ډیپلوماتیکو مراجعو او نړیواله سوداګرۍ کې خپل ځای ونیسي.

په ۱۳۰۱ کال کې افغانستان په لومړۍ ځل د جلال اباد د لویې جرګې په پایله کې، چې مشرۍ خپله پاچا کوله د لوړو مدني، انساني حقوقو بنسټیزه نظامنامه یا اساسي قانون تصویب کړو. په نوي اساسي قانون کې د پاچا واک او صلاحیتونه محدود شول، پاچا د قانون تابع وګرځید. اماني دولت په پرلپسې توګه لسګونه نورې نظامنامې تصویب کړې.

غازي امان الله خان خپل ریفورمونه، بدلونونه او سمونونه په لومړۍ مرحله کې له خپل ځانه پیل کړل، د خپلې شاهي کورنۍ له غړو او د خپل شاهي دولت له لوړپوړو چارواکو پیل کړل، د بیلګې په ډول خپل نوم یې له امیر څخه پاچا امان الله خان ته واړولو، د شاهي کورنۍ له غړو د سردار نوم لرې کړل شو، د درباریانو ځانګړې امتیازات لغوه شول. همداراز بدلونونه او ریفورمونه د خپل دولت په اداري سیستم کې پیل کړل او یو مشروطه شاهي حکومت جوړول اعلان کړل. د دې انقلابي ریفورمونو او بدلونونو موخه په لومړۍ ګام کې د افغانانو تر منځ ملي یووالي، یو پیاوړي ملي مرکزي دولت رامنځته کول وه. د نوي ریفورمونو تګلارې موخه زمور په ورسته پاتې دودیزې قبایلي ټولنه کې، وده، پرمختیا او د وخت او زمان سره سم عصري کیدل وه. غازي امان الله خان د دې بدلونونو، ریفورمونو او اصلاحي پلانونو له لارې هڅه کوله، څو افغانستان په سیاسي اقتصادي، برخو کې په یو پرمختللي، عصري، ناپیلي او خپلواک هیواد بدل شي.

د اماني دولت د ټولنیزو سمونونو پروګرام دویمه لړۍ هغمهال پیل شوه، کله چې پاچا د اروپا له اوږده سفره بیرته خپل هیواد ته راستون شو. پاچا د اروپایي هیوادونو پرمختللي تکنالوجي، تخنیکي او ټولنیز پرمختګ او د دوی د حقوقي،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سياسي نظامونو سيستم ثبات او د ټينګښت بنسټونه په خپلو سترګو ولیدل او همدارنګه پاچا په مصر، ترکیه او ایران کې د لویدیځې نړۍ د پرمختللي ټکنالوجۍ او د ملي دولتونو جوړولو له تګلارو څخه سخت اغیزمن شوي راستون شو.

پاچا امان الله خان د یادو اسلامي هیوادونو له مشرانو سره له نږدې لیده کاته وکړل. هغمهال دري واړه اسلامي هیوادونه په اسلامي نړۍ تر ټولو پرمختلي با ثابته دولتونه وه. ریفورمیست هیوادپال پاچا فکر کولو، کوم رغنده ریفورمونه او پرمختګونه دې اسلامي هیوادونو پلي کړي دي، دی هم کولي شي په خپل هیواد کې پلي کړی.

پوښتنه دا ده، ایا د ځوان غازي اعلیحضرت امان الله خان لس کلن خپلواک شاهي دولت په ریښتیا زمور په ورسته پاتې، قبایلي دودیزه ټولنه کې د بدلونونو، سمونونو او اصلاحي پراختیایي پلانونو د پلي کیدو له امله سقوط وکړ؟.

کله چې غازي امان الله خان د خپل شاهي حکومت د نوښو ریفورمونو او سمونونو اجنډا افغان ولس ته وړاندې کړه. د ټولنې په ځینو برخو کې سیاسي غبرګونونه او حساسیتونه راوپاریدل. په ځانګړې ټوګه د ریفورمونو په وړاندې په کلیوالي سیمو کې د ټیټې کچې دیني عالمانو، ملایانو او په ښارونو کې د نالوستي درباري محافظ کارانو له سیاسي غبرګونونو سره مخامخ شو. د ځوان خپلواک مسلمان پاچا په وړاندې منفي تبلیغاتو ورو ورو زور واخیست او ورسته په هیواد کې ناکرارۍ را وتوکیدلې.

که څه هم په افغانستان کې بدلونونه او اصلاحات د امیر شیرعلي خان د شاهي دولت راهیسې په اداري، قضایي، پوځي او د ښو حکومتوالي په برخو کې پیل شوي وه. افغانانو د مخکښو شاهي دولتونو ریفورمونو او بدلونونو په وړاندې منفي غبرګونونه ونه ښودل، بلکې سمونونه له تود هر کلي سره مخامخ شول.

ولې د اماني نهضت اصلاحي ریفورمونو او بدلونونو پروګرامونه ونه منل شول؟

ډیرې کارپوهان په دې اند دي، کله چې ځوان غازي امان الله خان واک ته ورسید، افغان پاچا د خپلې واکمنۍ په لنډه موده کې یودم په ځښتو ډیرو نویو ریفورمونو، سمونونو او بدلونونو پلي کولو باندې لاس پوري کړو. هغمهال افغاني دودیاله، ورسته پاتې محافظه کاره ټولنه په دومره چټکۍ او بیړه کې د دومره ډیرو پراخو هر اړخیزو نویو ریفورمونو او بدلونو بهیر هضمولو ته چمتو نه وه.

پداسی حال کې چې د مصر، ترکیې او ایران دولتونو دې ته ورته ریفورمونه او سمونونه په لږ توپیر سره له ستونزو سره سره پلي کول.

په ختیځو هیوادونو کې یو متل دی، بیړه وکړه خو په ورو یې وکړه، ځوان سمونوال پاچا شاه امان الله خان په خپله افغاني دودیزه خرافاتي ورسته پاتې ټولنې کې له بیړې کار واخیست. داسي مالومیده چې افغانان بدلون او بیړه په ګډ نه خوښویده.

د اماني دولت سقوط کورنۍ لاملونه

د ۱۹۲۸ کال د اګست پر ۲۹ نیټه یوه زر کسیزه لویه جرګه راوبلل شوه، په دغه لویه جرګه کې پاچا د خپل شاهي دولت د دریم پړاو د پلانونو، ریفورمونو او د بدلونونو اجنډا وړاندې کړه. سمونوال پاچا په جرګه کې د ځینو محافظه کارو او ناپوهه احساساتي دیني عالماوو له منفي غبرګونونو سره مخامخ شو.

د اماني دولت د سمونونو او بدلونونو نوي تګلاري په ټولنه کې د یو شمیر خلکو ګټې او بې ځایه امتیازونه له ګوابښ سره مخامخ کړل، تر ټولو لومړۍ همدې خلکو د اماني دولت د ریفورمونو د تګلاري په وړاندې مخالفت وښود.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډيري سياستپوهان او ټولنپوهان په دې اند دي، هغمهال افغاني ټولنه د اماني نهضت د دومره ډيرو چټکو ريفورمونو او بدلونونو منلو ته چمتو نه وه، له دې امله نوي ريفورمونه د ډيرو ستونزو او خنډونو سره مخامخ شول.

د اماني نهضت پرمختيايي سمونونه او بدلونونه په ټولو اسيايي هيوادونو کې بيساري وو. ريفورميست پاچا هڅه کوله، څو دا نوي سمونونه او بدلونونه په خپله ورسته پاتې قبيلوي دوديزه ټولنه کې پلي کړي.

ځوان او بې تجربې پاچا بې له دې چې د خپلې دوديزې ورسته پاتې قبايلي ټولنې روحي نبض او نازک احساساتي حالت درک کړي، دی د خپلو ريفورمونو پر اس سپور او د خپل حکومت د ريفورمونو پروګرامونو پلي کولو ته دوام ورکولو. د امان الله خان پر ضد په جوماتونو کې منفي تبليغات روان وه، ملايانو پيرانو او حضرتانو د کفر ټاپې لګولې، خو بيا هم امان الله خان خپل ريفورمونه او بدلونونه داسې پلي کول لکه چې هيڅ خبره نه وي او هيڅ خندِ يې په وړاندې پيښ شوی.نه وي.

شخصاً په خپله د زړونو محبوب پاچا هيڅ د دې تمه نه لرله، چې د ده ريفورمونه، بدلونونه به په ټولنه کې له خنډونو، ستونزو، مذهبي حساسيتونو او بې ځايه نه اتکل کيدونکي شورشونو سره مخامخ شي.

د اماني دولت د ريفورمونو تګلاره له دريو شورشونو سره مخامخ شول. ټولو مخالفينو يو صادق مسلمان، هيوادپال خپلواک افغان زړور پاچا او د انګريزې استعمار ضد پاچا په کفر تکفير وه. ځينو خلکو به ويل، چې پاچا له اسلام منحرف شوي دی، له قران لرې شوي او له خپل ځانه قوانين جوړوي.

۱. په ۱۹۲۴ کال کې لومړني شورش د افغانستان په سويل کې د ګوډ ملا يا د خوست شورش هغه مهال پيل شو، کله چې کابل کې لويه جرګه رابللې شوې وه، دا شورش د يوې سيمه ايزې شخصي حقوقي قضيې له امله پيل شو.کله چې ملا عبدالله خپله حقوقي قضيه د افغانستان د نوي نظامنامې پر بنسټ ونه ګټله، هغه د لويې پکتيا حاکم اعلي د اسلامي شريعت څخه په سر غړوني تورن کړو. ګوډ ملا د يوې پلان شوي دسيسې او توطيې له مخې خلک اغتشاش ته رابلل. ملا عبدالله قرانکريم او نوي قانون يې کلي په کلي ګرځولو، کليوالو ته به ويل، چې کوم کتاب غواړي، قران که دغه نوي قانون.

د خوست په شورش کې د هيواد په سويل کې د خپلواکۍ په جګړه کې د ټل جبهې فاتح د استقلال معرکې نومیالي غازي ببرک خان ځدران د انګريزې يرغلګرو ځواکونو په وړاندې د خپلواکۍ په جګړې کې مهم برخليک ټاکونکي رول لوبولي وه. غازي امان خان هغه ته د دې ميړاني له کبله د لمر اعلی نښان ډالۍ کړي وه. غازي ببرک خان د مرکزي دولت په پلوي د خوست شورش کابو کولو په مهال د هيواد جاهيلو او ناپوهو د ښمنانانو لخوا په شهادت ورسول شو.

د خوست شورش د اماني دولت د ريفورمونو او سمونونو اصلاحي پروګرامونو د چټکوالي بهير يې د پاموړ پڅ او ټکني کړو.

۲. په ۱۹۲۸ کال کې د افغانستان په ختيځ کې د شينوارو شورش هغه مهال پيل شو، کله چې پاچا امان الله خان د اروپا له اوږده سفره راستون شو او د دريم پړاو د سمونونو او بدلونونو اجندا اعلان کړه. که د شينوارو او خوست شورشونه وڅيړل شي، دواړه شورشونه د مرکزي دولت د ريفورمونو سره مستقيماً اړيکه نه لرله. دواړو اغتشاشونه د وړو قومي سيمه ايزو شخړو له امله پيل شول او د هيواد دښمنانو د خلکو له ناپوهې څخه سياسي ګټه پورته کړه او اغتشاشونو ته سياسي او مذهبي رنګ ورکړو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۳. په ۱۹۲۹ کال کې دريم شورش د حبيب الله کلکاني يا بچه سقو په نامه مشهور شورش پيل شو. همدې شورش د امان الله خان شاهي دولت رانسکور کړو. که څه هم د سقاو دارمار زوی حکومت د ديني ملايانو او درباري محافظ کاروانو له ملاتړه برخمن وه، خو بيا هم په دې هم و نه توانيد، د نهو مياشتو نه ډير په واک کې پاتې شي.

د امانی دولت سقوط بهرني عوامل

دا مهال په اسيا کې د برتانيې او شوروي اتحاد لويه لوبه يا د ګريټ ګيم سيالي پيل شوې وه. افغانستان د دې دوو سترو استعماري امپراتورۍ ترمنځ يو جيو ستراتيجک حايل هيواد وه. دواړو امپراتورېو افغانستان ته د خپلې امپراتورۍ د نفوذي سيمې په څير کتل. افغان شاهي دولت ته په داسې يو حساس سياسي جغرافيايی حالت کې ډيره ګرانه وه، څو په خپل ګاونډ کې د دواړو شمالي او سويلي استعماري زبرځواکونو سره متوازني اړيکي جوړې کړي.

پرته له شکه هيڅ څوک له دې انکار نشي کولې، چې د لس کلن اماني خپلواکه شاهی دولت په نسکورولو کې د استعماري برتانيې پټې او ښکاره توطيې او دسيسې کاريدلې دي. په ځانګړې توګه انګريزۍ استعمارګرو په مرکزي اسيا کې يو خپلواک پياوړي افغانستان ته د خپلې کولونياليستي واکمنۍ او سياسي پوځي ګټو ته د يو لوی ګواښ په سترګه کتل.

دواړو ښکېلاکګرو نړيوالي امپراتوريو هڅه کوله، څو په خپلو مستعمرو کې د ازادي غوښتونکو غورځنګونو غږ غلي وساتي. دواړه نړيوالي استعماري امپراتورۍ يو خپلواک، پياوړی او ناپيلی افغانستان د خپلو مستعمرو په ګاونډ کې نشو زغملې

ځکه د افغانانو د خپلواکۍ اتل پاچا خپلواکۍ يوازې د افغانانو لپاره نه غوښتله، بلکې د زړونو پاچا سره د سيمې د ټولو مظلومو ملتونو د خپلواکۍ مفکوره وه.

شاه امان الله خان مظلومو ولسونو ته دا پيغام رسولې وه، چې ازادي په زور اخيستل کيږي. د اماني خپلواک دولت په رامنځ ته کيدو سره په هند کې د ازادۍ کلمه د خلکو په خوله کې ګرځيده. د هند مسلمانانو د غازي امان الله څخه د خپلو ازادي غوښتونکو غورځنګونو په اړه د مرستې تمه لرله.

لنډيز:.

په ټولټره توګه افغان ولس د اماني دولت په رغنده ريفورمونو او سمونونو کې پراخه برخه واخيستله، خو د ريفورمونو په بهير کې عامه اذهان د اماني دولت په وړاندې د تنګنظرو ناپوهه ملايانو له لوري تحريکيدل او د اماني دولت په وړاندې منفي پروپاګندونه کيدل.

له يوې لورې د حکومت لخوا خلکو ته د نويو ريفورمونو او اصلاحاتو په اړه په ښارونو او کليوالي سيمو کې ډير لږ عامه پوهاوی وړاندې کيده، ډير خلک د ريفومونو په مانا سم نه پوهيدل او له بدلونونو او سمونونو څخه ويره لرله.

له بل لورې اماني حکومت د خپلې مدرنې حکومتوالۍ سيستم پلي کولو لپاره ډيرو نغدي پيسو ته اړتيا لرله. د اماني دولت خزانه د اغتشاشاتو په کرارولو کې او د نوي پلان شويو ريفورمونو پلي کولو کې تقريباً تشه شوې وه. برتانوي هند افغانستان ته د خپلواکۍ د اعلانيدو سره سم. په اقتصادي برخه کې سخته ضربه وکړه، دوی پر افغانستان باندې خپلې کلنۍ مالي نغدي مرستې بالکل بندې کړې.

خپله امان الله خان په دې اند وه، چې د ده حکومت د سياسي بدلونونو قرباني شوي دی، د ده په اند دغه بغاوتونه د ناپوهو روحانيونو له خوا تحريک کيدل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خو ډيرې لويديځوال تاريخپوهان د اماني دولت پر ضد بغاوتونه د ريفورمونو او بدلونونو پايله ګڼي او لامل يې په افغاني ټولنې کې ورسته پاتوالي، تعصب او تنګ نظري ښيي. د غازي امان خان تيروتنه په سمونونو او بدلونونو کې بيړه او بې تجربګي ښيي او پاچا خپله ورسته پاتې، دودپاله ټولنه سمه نه پيژنده.

ايا د اماني دولت ټولنيز ريفورمونه د اغتشاشاتو او ناکرارۍ لامل وګرځيدل که د اماني دولت د شورشونو قرباني شو. خپله زړور ريفورمېست پاچا امان الله خان په دې اند وه، چې د ده ريفورمونه او اصلاحات د اغتشاشونو لامل نه وه، بلکې د ده حکومت د سياسي تبدلات قرباني شو، کوم چې د متعصبو روحانيونو له لور تحريکيدل او ملاتړ ترينه کيده.

د ډيرو معتبرو اسنادو او شواهدو په بنسټ، ډيرې روښاندې افغان تاريخپوهان او د افغانستان بهرني سياسي څارونکي د اماني واکمنۍ د سقوط يا نسکوريدو عواملو په اړه يوه خوله دي، دا د برتانوي نړيوالي امپراتورۍ د سيمه ييزه سياست طرحې او پلانونه وه انګريزانو برتانوي هند ته ورتلونکي لار د خيبر لاره ته د يو سورۍ په څير کتل، ځکه افغانان څو ځلي په دغه لار هند ته تللی وه.

داکټر عبدالرحمن زماني په خپله يوه څېړنيزه ليکنه کې ليکي: ارزيابي علل اغتشاشات وشکست نهضت اماني به تحليل و تجربه عوامل مغلق و پيچيده ان نياز دارد. در اين که اغتشاشات سبب تاخير و انقطاع برنامه هاي اصلاحي و انکشافي سقوط رژيم اماني شد، هيچ شکي وجود ندارد، ولي شکست رژيم اماني را بايد از ناکامي اصلاحات تفکيک کرد.

ليکوال ګريګورين د مډرن افغانستان پيدايښت کتاب کې د دې سرليک لاندې ليکي ,,امان الله خان د مدرنيزم يو بد چانسه اتل وه ,, هغه ليکي، د امان الله خان د سقوط ريښې يوه برخه د يو شمير افغانانو په بې حوصلګۍ کې او بله برخه د دوی په تعصباتو کې نغښتې وه. همدغه ليکوال په خپل کتاب کې د ايمانوبيل په حواله ليکي، ښايي افغانان د ځمکې پر مخ تر ټولو متعصبترين مذهبي خلک وي. ملايان د امان الله خان د نسکورلو اصلي عاملين وه. د ده په اند، ناکرارۍ او شورشونه، د امان دولت د لوړو پراخو اقتصادي سياسي او ټولنيزو ريفورمونو تګلارې په وړاندې د خلکو يو غبرګون وه. داسي بريښيدل، چې خلک پرمختګ ته ليواله نه وه او مدرنيزيشن يا عصري کيدو ته چمتووالي نه لرلو

زما په اند غازي اعليحضرت امان الله خان د افغانانو د تاريخ او د افغانستان د خپلواکي يو نه هيردونکي ستورۍ او يو ملي اتل دی. روښاندی زړور پاچا د خپلو عالي مترقي فکرونو، د اړينو ريفورمونو پروګرامونو سره او د خپل هيواد او د خپلو هيوادوالو سره د بې کچې مينې درلودلو سره يو ډير هوښيار، با استعداده صادق سپيځلي مسلمان افغان وه

دا هم د يادونې وړ بولم، کله چې ما د دې ليکنې په اړه نوي مواد راټول، زه مجبور شوم، چې د خپل ښار د پوهنتون کتابتون ته او د المان ډيجيټال ارشيف ته ورشم. څو وګورم، جرمني ليکوال د غازي امان الله خان په اړه څه ليکلي دي او سل کاله مخکې د جرمني رسنيو د غازی پاچا امان الله د اروپا سفر په اړه څه ليکلي دي. ما ډير څه وليدل، خو زه يوازې دوه متونه کټ مټ په هماغه سل کاله مخکې المانې ژبه کې دلته رانقلوم. د دې لپاره چې په افغانستان کې ناپوهو ملايانو غازي امان الله خان په کفر تکفيره، خو د اروپا ايډيالوجيکو کمونيستانو افغان خپلواک پاچا د اسلامي نړۍ يو بيساري، هوښيار، پياوړي، غزتمن او غيرتمن پاچا په څير کتلو. د اروپا کمونستانو غازي امان الله خان د خپلې کمونستي مفکورې او د شوروي اتحاد امپراتوري ته د يو ګوابښ په سترګه کتلو. د غازي امان الله اسلاميت او افغانيت په دغه لاندې المانې ليکنو کې ثابيږي. کله چې غازي امان الله خان د اروپا سفر په ترڅ کې د جرمني برلين ښار ته راورسيد، که څه هم هغمهال د جرمني اقتصاد ځښتې ډير کمزوري وه. بيا هم د جرمنی دولت په خپل ټول تاريخ کې هيڅ يوه پاچا ته په تيره بيا د دريمې نړۍ يو مسلمان پاچا ته دومره ستر رسمي تشريفات او دولتي مصارف نه وه ترسره کړي، لکه چې دوی غازي اعليحضرت پاچا امان الله خان ته په ډير درنښت سره دولتي رسمي او پوځي ترتيبات نيولي وه، ځکه امان افغان په نړۍ کې لومړني پاچا وه، چې د انګريزي استعمارګرو څخه په زور خپلواکي ترلاسه کړي وه، له همدې امله افغان پاچا په ټوله نړۍ کې بيا په ځانګړي توګه په ايټاليا، فرانسه او جرمني هيوادونو

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کي د بيساري تود هرکلي سره محامخ شو. د افغان پاچا او ملکه ثريا ډيپلوماتيک شاهي شان او شوکت او بيساري ښکلا په ټوله اروپا کي ټول اروپايان حيران کړي وو.

Zitat 1
Beim Brandenburger Tor stand eine Gruppe Kommunisten, die den König mit dem unfreundlichen Rufe: „Nieder!“ begrüßte. Auf die Frage des Königs an den ihm beigegebenen Botschafter Rosen, was der von geballten Fäusten begleitete Ruf bedeute, erwiderte dieser geistesgegenwärtig: „Gott schenke Euer Majestät ein langes Leben.“ Freudig wendete sich der König im Auto um und winkte dafür den überraschten Kommunisten freundlich zu.

ژباړه: د برلين ښار د برندنبورګ تاريخي دروازي يا برج تر څنګه يوه ډله کمونيستان ولاړ ول، دوی پاچا په ډيرو بي ادبو الفاظو يادولو ,, مړ دي وي پاچا ,, ناري وهلي. (ژباړن :پاچا په الماني ژبه نه پوهيدو) د پاچا د يوې پوښتنې په ځواب کي، چې دا خلک څه وايي؟ ، د المان دولت سفير ښاغلي روزن د پاچا په څنګ کي ناست وه، وويل: صيبه، دوی وايي: خدای دي تاسو ته اعليحضرته يو اوږد عمر در کړي، پاچا د دي خبرې په اوردو سره په خپل موټر کي د خلکو په لور لږ راکوږ شو، دوی ته په ډير ادب سره د درنښت لاس وښوروه، د پاچا دغه عمل د کمونستانو د حيرانتيا لامل وګرځيدو او غلي شول.

Zitat 2
Der afghanische Gesandte hat sich nach heutiger Besichtigung des Parks des Palais Prinz-Albrecht damit einverstanden erklärt, dass die hiesigen etwa 1.000 Mohammedaner, die den König von Afghanistan zu begrüßen wünschen, in dem hinter dem Palais gelegenen Park aufgestellt werden.

ژباړه: افغان سفير پلاوي د نن ورځ د پاليس البرت مانۍ او پارک کتني ورسته په دې موافقه وکړه، چې اتکل ۱۰۰۰ اروپايي ميشتو مسلمانانو هيله څرګنده کړي او غواړي، څو د افغانستان پاچا ته ښه غلاست ووايي، دوی به د مانۍ شا ته په پارک کي د ليدو لپاره سره ودرول شي.

د المان د نورو ليکنو په بنسټ دا مخور ايډيالوجيک مسلمانان د ټولې اروپا څخه د افغان خپلواک پاچا غازي امان الله خان د ليدو لپاره راغلي وو او غازي شاه امان الله خان په برلين کي د ټول جرمني او د اروپا پر کچ دويم ستر جامع جومات پرانيسته هم وکړه او د همدې مسلمانانو سره په جومات کي د جمعي لمنځ ادا کړو.

د حق او باطل، د علم او جهل ترمنځ جګړه لا تر اوسه روانه ده.

.پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ